مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۳/۰۹/۱۰

# فزیکي بېلوالی، دایمي حضور

## د استاد سعدالدین شپون شپږم تلین

نن د پښتو ژبې په هنري نثر کې د ځانګړي سبک خاوند لیکوال استاد سعدالدین شپون شپږم تلین دی، دی د خپل ځانګړي سبک په لرلو سره زموږ د وطن افغانستان په ټولو لوستو خلکو کې، په تېره په ځوان نسل کې، لکه د ده ځانګړی سبک، داسي مقبولیت لري. استاد شپون په فزیکي ډول له موږ نه بېل دی، خو د خپلو اثارو له لارې له ټولو سره دایمي حضور لري.
شپږکاله مخکې ما د ده د مړیني په پار دوه مطلبونه خپاره کړي وو:

ــ زموږ کلی شپون نه لري،

ــ زموږ د کلي شپون او «و، نه و، یو شپون و»

د دې دوو مطلبونو په لیکلو سره په هغه وخت کې ما ځانته قناعت ورکړ چې د شپون په باب ما خپل حق ادا کړی دی؛ خو نه داسې نه ده. پر شپون باندې او د ده پر افکارو او آثارو باندې باید ډېر کار وشي.
دا دی اوس د ده د شپږم تلین په مناسبت له خپلو پاسنیو یادو لیکنو څخه «زموږ کلی شپونه نه لري» لنډه لیکنه یوځل بیا د دې لپاره خپروم چې د شپون فرهنګي شخصیت او ترسره کړو خدمتونو ته مې درناوی کړی وي:

## زموږ کلی شپون نه لري





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

آهای د سوي کلي خلکو!

غږ مي اورئ!

زموږ کلی افغانستان نومیږي، ښې درې، ښه ښارونه او ښه غرونه یې لرل. دغه جنتي کلي یو شپون هم درلود، د دې کلي شپون:**«و، نه و، یو شپون و»** نومیده، خدای شته، ښه شپني یې هم کوله.

زموږ د کلي شپون، عجیب شپون و؛ ده د شپنو د ډانګ پر ځای یو لوی زرین قلم په جیب کې ګرځاوه. په دې ډانګ ډوله قلم به یې له لرې د خپلې بې ګناه او سپیځلې رمې لارښونه کوله.

لکه چې په دې زمانه کې هر څه سرچپه دي، د دې شپانه په کارونو کې هم ډیر څه بدل وو. بدلون یې په دې کې و چې دی له خپل لوی زرین قلم سره، په خپلې رمې پسې نه و روان، دی ځای پر ځای ناست و، رمه ده ته راتله او ور نه تاو به وه. ښایي د لسان الغیب د وینا دا پالیسي به وه، چې ویلي یې وو:

آب و خــور لــکه آسیا په ځـای را رسي<br>په خپل کور کې مي سکون دی هم رفتار

دې شپانه ډیرځلې عجیبې پخې خبرې هم کولې. یوه ورځ چې په کلي کې ډیر اړ و دوړ و او کلیوال له هر لوري نلیدل، ده په خواشینی سره و ویل:

«دا پر کلیوالو باندې څه حال دی، پاچا ته څوک د شکایت له پاره هم نه شي ورتلای. پخوا یې له ما سره کلکه انډیوالي وه، داسي انډیوالي چې کلي په کلي به را سره ګرځیده؛ له کله نه چې پاچا شو، نو له ځان نه یې د غوښو دیوالونه را تاو کړل، نور خو پریږده، آن زه هم نه شم ورتلای، نو بهبود به څنګه راشي؟»

د شپانه او رمې ښه سره دوستي وه، چې نا څاپه پر کلي باندې د سوزونکي او مرګوني اور سیلاو را برابر شو، هر څه تالا ترغه شول. رمه څه په اور کې کباب شوه او څه وتریده او په هر لوري خپره شوه.

د شپانه تن بدن تپي، تپي و، نه پوهیده څه وکړي، بې رمې یې ګوزران نه کیده. چې هیڅ یې له لاسه و نه شول، له خپل تپي بدن او خواشیني ارواح سره یې په بل لوري مخه کړه، په کوم لرې کلي کې یې واړول او...

هلته هم شپانه خپل زرین قلم چلاوه، خو د وخت په تیریدو سره د پردي کلي بادونو او د خپل کلي غمونو لاسونه سره یو کړل او شپون یې داسي وسولاوه چې له پښو یې وغورزاوه، نو ځکه په خواشینی سره باید و وایو:

...او نور زموږ کلی شپون نه لري.

دا دی اوس د افغانستان، سیمې او نړۍ فرهنګي ـ ادبي کړیو شپون له لاسه ورکړ، خو ویاړ دا دی چې شپانه په ډیرې مینې او زړه سوي سره خپل حق ادا کړی او ښه پوره یې ادا کړی دی.

ښایسته بڼای میراث یې تولو ته پریښود، د میراث داسي خزانه ورنه پاتي شوه چې، هر څوک، هر څومره غواړي، پرته له دعوا او پرته له شور و ځوږ نه، هغه تر لاسه کولای شي.

**ارواح دې یې ښاده**

**او یاد دې تل پاتي وي!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ